د ژوند او چاپيريال د علمونو پوهنځی

Department of Geography

Amory Building
Rennes Drive
Exeter, EX4 4RJ

e asyfair@exeter.ac.uk
w www.asyfair.com


# ASYFAIR د پناهندګۍ د اپیلونو پروژه: اروپا کې د پناهندګۍ د لا زیاتې شفافې او مرتبې فیصلې لپاره څېړنه

## زه څوک یم؟

*زه یو د پوهنتون څېړنکار یم.* زه په بیلابیلو اروپايي هیوادونو کې تحقیق ترسره کوم تر څو وګورم چې ایا د پناهندګۍ په دعوو د کېدونکو پرېکړو قانوني پروسه په ټوله اروپا کې یو شان ده که نه. دا یوه خپلواکه څېړنه ده چې بودیجه یې د اروپا د څېړنیزې شورا (ERC) ورکول کېږي، او مشري یې د پروفیسر Nick Gill لخوا کېږي څوک چې په Exeter پوهنتون کې په انساني جغرافیه کې پروفیسر دی UK. زه اروپا کې د هیڅ کومې دولتي ادارې یا د رسنیو د سازمان برخه نه یم.

دا څېړنه تر 2021 پورې دوام کوي او د پناهندګۍ د اپیلونو د استماعاتو د مشاهدو په اړه ده. ټول تحقیقي فعالیتونو د هغو اخلاقي لاربښوونو له مخې ترسره کېږي چې د مسلکي معیارونو لخوا ټاکل شوي او د اروپا د څېړنیزې شورا او د اکسټر پوهنتون لخوا کتل شوي دي.

## زه څه کوم؟

زه نن دلته ددې لپاره یم چې پروسیجرونه د محکمې د عامه برخې څخه وګورم. په اروپايي هیوادونو کې چارواکیو ته ددې څېړنې په اړه خبر ورکړل شوی دی. د استماع پر مهال چې هر څه ترسره کېږي زه د هغې یاداښتونه اخلم تر څو موږ د نورو همدا ډول استماعات چې په نورو مختلفو محکمو او مختلفو هیوادونو کې ترسره کېږي پرتله کړو. د پروژې هدف دا دی چې په دې خبره د پوهېدو لپاره کافي معلومات راغونډ کړی شي چې قاضیان او نور هغه کسان چې د پناهندګۍ د فیصلې په پروسه کې دخیل دي څنګه کولی شي د پناهندګۍ د درخواست ورکوونکو لپاره پروسیجر زیات شفاف کړي.

زه به د پروسیجر، د استماع پر مهال د پوښتنو او ځوابونو، د دعوو په ملاتړ کې ثبوت او د دعوو په خلاف ثبوت یاداښتونه اخلم. تاسو هغه یاداښتونه چې ما اخیستلي کتلی شئ (د ترجمو انتظام یې کېدلی شي). که زه ستاسو د استماع مشاهده کوم، نو زه به غلی او احترام ښودونکی یم، او تاسو هر وخت مانه د تګ غوښتنه کولی شم.

## په تاسو لازمه نده چې د څېړنې برخه شئ

زه به د خپل تحقیق د برخې په توګه د سلو نه زیاتو داسې استماعاتو ته حاضرېږم. په څېړنه کې د برخې اخیستلو هیڅ ډول کوم مکلفیتونه نشته، او که تاسو ترې ځان ایستل وغواړئ نو کوم عواقب نلري. که تاسو په هر کوم دلیل نه غواړئ چې زه ستاسو د استماع مشاهده وکړم نو تاسو کولی شئ مانه د تګ غوښتنه وکړئ.

## که تاسو خپل ذهن ته تغیر ورکړئ نو څه کېږي؟

که تاسو پرېکړه وکړئ چې ما مشاهدې ته پرېږدئ خو وروسته خپل ذهن ته تغیر ورکړئ، نو تاسو هر وخت هغه معلومات چې ما غونډ کړي دي ایستلی شئ. که د استماع ځینې داسې خاص اړخونه وي چې تاسو نه غواړئ موږ یې ځان سره

وساتو، نو مونږ خبر کړئ. په تاسو لازمه نده چي خپل دليلونه راته توضيح او تشريح کړئ او مونږ به ستاسو د پرېکړې احترام کوو. د ځان د ايستلو مطلق هيڅ کومه جريمه يا جزا نشته. فقط مونږ ته وواياست.

که تاسو ځان ايستل غواړئ، نو تاسو مونږ ته د استماع نه مخکي يا وروسته په خپله ويلی شئ، او يا تاسو د استماع نه وروسته مونږ سره په مختلفو طريقو تماس نيولی شئ: څېړنکارانو ته د ايميل کولو له لارې (د پروژې ايميل ادرس د asyfair@exeter.ac.uk)، د اکسټر پوهنتون کې د اخلاقياتو افسر ته په ايميل کولو (g.m.seymour@exeter.ac.uk)، د پوسټ له لارې د پروفيسر Nick Gill، څوک چي ددې پروژې مشر څېړنکار دی، پوستي ادرس لاندې ورکړل شوی دی)، او يا مونږ ته په تليفون کولو سره (د تليفون شمېرې لاندې دي).

## ايا کوم خطرات شته؟

که تاسو ماته اجازه راکړئ چي ستاسو د استماع مشاهده وکړم نو په دې کې تاسو لپاره هيڅ خطرات نشته، او دا به ستاسو په استماع هيڅ تاثير ونلري. د تجربه کارو څېړنکارانو يوې ډلې زمونږ ميتودولوژی ته کتلي دي، او هغوی مونږ ته ويلي دي چي دا اخلاقي او مناسب ده. د ASYFAIR د څېړنيز ټيم هدف د يو ساده، ارام او دوستانه ماحول پيدا کول دي.

## ايا په څېړنه کې ګډون کول کوم منافع لري؟

په دې څېړنه کې ګډون کول ستاسو لپاره نېغ په نېغه لنډ مهاله منافع نلري. ددې معنا دا چي ستاسو ګډون کول به په استماع کومې مثبتې يا منفي اغېزې ونلري. خو دا څېړنه ښايي په راتلونکې کې د پناه غوښتونکو د ژوند په بهترولو کې مرسته وکړي ځکه چي دې خبرې ته به توجو راواړاوي چي د پناهندګۍ د اپيلونو په سيسټم کې څه بهترېدلی شي.

## کوم معلومات چي ثبت شي هغوی سره څه کېږي؟

د غونډو شوو معلوماتو به تحليل کېږي چي وکتل شي ايا د پناهندګۍ د هغو اپيلونو چي استماع يې شوې په طريقو کې کوم ترتيبونه شته. معلومات به په خوندي توګه انتقالېږي او ذخيره کېږي، او په بشپړه توګه به بې نومه کېږي، ددې معنی دا ده چي ددې به هيڅ امکان نه وي چي تاسو د هغه څه نه وپېژندل شئ کوم چي د تحقيق د برخې په توګه نشر او خپرېږي. په دې کې به شامل وي د هويت د پېژندل کېدو نومونه او ځايونه ترې ليرې کول، او همدارز چيرته چي امکان لري او مناسب وي غير عادي پېښو او ځانګړتياو ته تغير ورکول.

بې نومه کړی شوي معلومات به ددې لپاره کارول کېږي چي اکاديميک تحقيق وليکل شي کوم چي به په اکاديميکو مجلو کې نشرېږي او په اکاديميکو کنفرانسونو کې به پرې بحث کېږي. برسېره پر دی، څنګه چي د څېړنې هدف دی چي د پناهندګۍ فيصله بهتره کړي، مونږ ښايي د بې نومه شوو معلوماتو څخه داسي استفاده وکړو چي پاليسي جوړوونکو، عام ولس او رسنيو ته يې وړاندې کړو. دا معلومات به د پناهندګۍ پرېکړه کوونکو ته نه ورکول کېږي او د پناهندګۍ په مشاهده شوو دعوو او قضيو به کوم تاثير ونلري. تاسو د ټيم د ايميل ادرس چي لاندې ورکړل شوی دی له لارې د خپلو معلوماتو په اړه په تماس کې پاتې کېدلی شئ.

مونږ ښايي د معلوماتو يوه په بشپړه توګه بې نومه شوې بڼه د يو خوندي شوي ډاټا ارشيف له لارې موجوده کېږدو تر څو په راتلونکو تحقيقي پروژو کې ترې بيا استفاده وشي. دا ډاټا به بې نومه کړی شوې وي او هيڅ داسې معلومات به پکې شامل نه وي چي تاسو د نورو لخوا وپېژندل شئ. په دې خوندي ارشيف کې به بې نومه کړی شوي تحقيقي معلومات د لسو کلونو لپاره ساتل کېږي ځکه دغه موده د اکسټر پوهنتون لخوا لازمه کړی شوې ده. له دې وروسته به په خوندي توګه له مينځه يوړل شي.

## ستاسو د محرميت به څرنګه حفاظت کېږي؟

مونږ به په ډاټا کې هيچرته ستاسو نوم، د زېږون نېټه يا ادرس ثبت نه کړو. ټول څېړنکاران چي په دې څېړنه کار کوي به ستاسو د محرميت احترام کوي او يوازې هغه شخصي معلومات به درنه غونډوي کوم چي په مطلق ډول د تحقيق لپاره ضروري وي. هغه څېړنکاران چي ددې معلوماتو باندې کار کوي پرې لازمه ده چي د معلوماتو په راز کې ساتلو موافقه امضاء کړي.

ځينې هغه معلومات چي مونږ يې راغونډوو ښايي حساس يا شخصي معلومات وي نو له دې امله به يې مونږ خوندي ساتو او

په احتیاطر سره به پرې کار کوو. مونږ به دا خبره یقیني کړو چې زمونږ په خپور شوي تحقیق کې او یا په هغه ډاټا کې چې په راتلونکي کې نورو څېړنکارانو لپاره اینودل کېږي داسې کوم معلومات موجود نه وي چې څوک ترې دا نتیجه واخیستلی شي چې تاسو څوک یاست.

مونږ به ستاسو شخصي معلومات یوازې په هغو طریقو کاروو چې په دې معلومات پاڼه کې تشریح شوي دي، ستاسو په رضایت سره او یوازې د عامه ګټو د تحقیق لپاره، د ډاټا د تحفظ د موجودې قانونسازۍ سره سم. مونږ به ستاسو شخصي معلومات د ASYFAIR د تحیقق کوونکي ټیم څخه بهر هیچا سره شریک نه کړو، او مونږ به ستاسو شخصي معلومات د اروپا د اقتصادي منطقې څخه بهر کوم هیواد ته انتقال نه کړو تر څو چې دغه هیواد د معلوماتو د حفاظت مناسبه درجه یقیني کړې نه وي.

## نور معلومات

ددې پروژې کوربه د Exeter پوهنتون دی او بودیجه د اروپایي څېړنیزې شورا (ERC) لخوا د اروپایي اتحادیې د افق 2020 د تحقیق او نوښت د پروګرام لاندې ترلاسه کوې چې د مرستې د موافقې لمبر یې دا د StG-2015_677917.

## د تماس جزییات

که تاسو ددې څېړنې په اړه کومې پوښتنې لرئ نو زه او د تحقیق ټول خوښ یو چې ځواب ورته ووایو. تاسو د تحقیق د مشر څېړنکار پروفیسر Nick Gill یا د تحقیق د ټیم د بل هر تن سره د تماس د لاندې جزییاتو په کارولو سره تماس نیولی شئ.

د پروژې په اړه معلومات (په بیلابیلو ژبو کې) زمونږ په ویبسایټ هم موندل کېدلی شي: www.asyfair.com.

**د پروژې مشر:**

**پروفیسر Nick Gill**

د جغرافیې مکتب
Amory Building
Rennes Drive
د Exeter پوهنتون
Exeter, EX4 4RJ
انګلستان

ایمیل: asyfair@exeter.ac.uk

تلیفون: +44 (0) 1392 72333
ویبسایټ: www.asyfair.com

**څېړنکاران:**

**ډاکټر Nicole Hoellerer**
**مشر څېړنکار (آلمان)**

**ډاکټر Jessica Hambly**
**مشره څېړنکاره (فرانسه)**

**ډاکټر Daniel Fisher**
**څېړنیز همکار (انګلستان)**